First Edition

وحدت د انګلیسي او عصري علومو مرکز

# د کمپیوټر اسانه پېژندنه

Easy Introduction to Computer




Ketabton.com

لیکوال

صبغت الله (سلطاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کمپیوټر اسانه پېژندنه

لیکوال

صبغت الله (سلطاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د کمپیوټر اسانه پېژندنه |
| لیکوال | صبغت الله (سلطاني) |
| کمپوز او ډیزاین | سلطاني صاحب |
| د چاپ لړ | لومړی |
| کال | 2023/۱۴۰۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سريزه

د انسان په ختہ کي اخبنل سوي چي تل هڅه وکړي تر څو له نوي څخه ځان پوه او خبر کړي. دغه پلټني د علومو، مدني او بشري او نورو علومو د موضوعاتو د پيداکيدو سبب کرځي چي د تمدن په هر معيار او ډگر کي خاص بيا په يوه معاصره ټولنه کي يی رول زياتيږي .

کله چي مي د کمپيوټر اسانه پيژندني کتاب باندي کار شروع کوه نو فکر کي مي ډير اسانه او ټولني ته به د يو ساده شي په توگه ښکاريده.

د گوتو په کار شروع کيدو سره راته معلومه سوه چي د يو اسانه او خلص څه راټوليدل ډير اسانه نه دي. ما خپله د يو ملي احساس په توگه معاصري زوريدلی افغاني ټولني ته د خپل ژوند ارزښتناکه برخه چي وخت دي وقف کړ او په خپلو عواطفو مي چي د کمپيو ټر اسانه پيژندنه نوميږي د کمپيوټر زياتره برخي مي په اسانه توگه معريفي کړي چي د کمپيوټر زده کړه د نني عصر کي د علومو سرچينه بلل کيږي وليکي. د پوهنتون په لوري مي لومړي قدم په همدغه کتاب په ليکولو پيل کړ.

د خدای (ج) څخه ډير شکر گزاره يم چي زما ناوسه وجود ته يی دومره وس ورکړ چي د خلگو د خدمت جوگه وگرځوي او خلگ ترينه گټه واخلي.

**په درنښت**

صبغت‌الله (سلطاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوعاتو لړلیک


د کمپیوټر تعریف........................................................................ 1

د کمپیوټر څلور عمده دندي........................................................... 1

د ( Data)  او  (Information) ترمنځ توپیر............................................ 2

د (Data) ډولونه ........................................................................ 3

د کمپیوټر ډولونه ...................................................................... 4

د مایکرو کمپیوټر ډولونه.............................................................. 5

د کمپیوټر هارډویر ..................................................................... 6

د هارډ ویر برخي ........................................................................ 6

1) Keyboard/کیبورډ.................................................................... 7

Mouse (موږک) ........................................................................ 10

د پروسیس کولو آلې ( Processing Devices ) ..................................... 13

١) پروسیسر ( Processor, CPU, Micro Processer) ............................... 13

ذخیره کوونکي آلې ( Storage Devices ) .......................................... 15

د هارډیسک ډولونه د جوړښت لمخي ................................................ 16

د هارډیسک ډولونه د موقعت لمخي.................................................. 16

د کمپیوټر د حافظې  د اندازه کولو واحدات ........................................ 17

خارجي آلې ( Output Devices ) ..................................................... 18

هغه آلی چي هم (input) وي او هم (Output) ........................................ 19

لاینونه او د هغوی ساکټونه (Cables and Ports)................................... 20

د کمپیوټر سافټویر(Software of Computer) ....................................... 21

د سافټویر ډولونه ...................................................................... 21

څنگه یو ښه کمپیوټر رانیسو!! ....................................................... 22

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کمپيوټر تعريف

*کمپيوټر د Compute له کلمي څخه اخستل سوي چي معنا يې محاسبه يا شمېرنه ده.

*په اصطلاح کي هغه برېښنايي ماشين دی چي د ليکلو لپاره، د حسابداري لپاره، رسامي لپاره، د ډيزاين لپاره، د پروګرام جوړولو لپاره، د ويډيو ليدلو لپاره، د ګيم کولو لپاره او انټرنيټ د استعمال لپاره ورڅخه ګټه اخستل کيږي.

***يا په بل عبارت:** يو برېښنا يې ماشين دي چي د ( user) استعمال کوونکي څخه (data) يعني (input) اخلي او په هغه باندي پروسيس ترسره کوي او دوباره يې (user) استعمال کوونکي ته په (output) ډول ښيي.

***او يا هم په بل عبارت:** کمپيوټر يو برېښنايي ماشين دي چي يو لړ محاسبې او منتقي اجرآت ترسره کوي


# د کمپيوټر څلور عمده دندي

١) د معلوماتو اخيستل (Input)

٢) پر معلوماتو باندي پروسيس (Process)

٣) د معلوماتو ذخيره کول (Storage)

۴) د معلوماتو وړاندي کول (Output)




## ١) د معلوماتو اخيستل (Input)

کله چي کمپيوټر ته کوم معلومات داخلوو هغه ته input وايي.

**مثلاً:** د بټنانو وهل، د موز څخه کار اخستل، د مايکروفون په واسطه سره د اواز ثبتول او نور.


ليکوال: صبغت اللّه (سلطاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ۲) پر معلوماتو باندي پروسیس (Process)

کله چي په input کومه عملیه ترسره کېږي هغه ته process وایی.

**مثلاً:** کله چي موږ ولیکو چي ۲+۵ څو کېږي نو دا پروسیس کېږي او راته وایی چی ۷ کېږي او یا هم موږ په کمپیوټر کي په یو شی پسي لټون کوو نو د پروسیس څخه وروسته موږ ته وایی چي دا شی دلته پروت دي.

### ۳) د معلوماتو ذخیره کول (Storage)

کوم ځای کي چي د input معلومات ذخیره کېږي هغه ته Storage وایی.

**مثلاً:** کله چي موږ د کپیوټر څخه د ۲+۵ جواب وغواړو نو کمپیوټر ۷ له ذخیره کولو څخه وروسته ښیی یا هم د نورو ډاټا لکه ویډیو ګانو، اېډیوګانو، تصویرونو، فایلونو او نورو ذخیره کول.

### ۴) د معلوماتو وړاندي کول (Output)

کله چي د input معلومات په سکرین معلوم شي دی ته output وایي.

**مثلاً:** د ۲+۵ جواب چي ۷ کېږي اوټپوټ بلل کېږي او یا هم د سکرین پر مخ چي موږ کوم شی وینو او یا له سپیکر څخه کوم اواز راوځی او دي ته ورته مثالونو ته (output) وایي.

## د ( Data) او (Information) ترمنځ توپیر

### (Data) اطلاعات یا معلومات

نا پروسیس شوي معلومات عبارت دي له (Data) څخه.

**مثلاً:** د ۲+۵ جواب چي ۷ کېږي پکښي ۲+۵ (Data) ده یعني د پروسیس دمخه معلوماتو دي او یا هم زموږ او ستاسي په هارډیسکونه کي چي څه پراته دي ډاټا بلل کېږي.

### (Information ) معلومات

پروسیس شوي معلومات عبارت دي له (Information) څخه.

**مثلاً:** د ۲+۵ جواب چي ۷ کېږي پکښي ۷ (Information) دي یعني پروسیس شوي معلوماتو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د (Data) ډولونه

**۱) الفبا معلومات (Alphabetic)**

هغه معلومات دي چې الفباء حروف پکښې کې وئ. لکه: احمد، افغانستان، کمپیوټر، میز او چوکۍ

**) عددي معلومات (Number / Numbaric Data)**

هغه معلومات چې عدد پکښې کې وي:۱۴۳۵۴۶۷۵۷

**۳) ګډ معلومات (Alphanumeric Data)**

هغه معلومات چې الفباحروف، عدد او سمبول پکښې وي لکه: اساس: ۱۲۰

**۴) تصویري معلومات (Picture / Image Data)**

هغه معلومات چې عکسونه پکښې وي.

**۵) ویډیو یی معلومات (Video Data)**

هغه معلومات چې ویډیو شکل کې وي.

**٦) غږیز معلومات(Audio / Sound Data)**

هغه معلومات چې غږیز شکل کې وي.

**۷) فایلي معلومات(Document Data)**

هغه معلومات چې د فایل په شکل سره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کمپیوټر ډولونه

**۱)کمپیوټر د کار او جوړښت لمخي په درې ډولونو ویشل شوي دي.**

1: Analog Computer    2: Digital Computer    3: Hybrid

**۱) انا لوګ کمپیوټر:**

هغه کمپیوټر ته ویل کیږي فقط د یو شي اندازه معلوموي. لکه: د پطرول پمپ ماشین، ستنو والا ساعت، د اواز مکسر او نور.




**۲) ډیجیټل کمپیوټر:**

هغه کمپیوټر ته ویل کیږي چې بریښنایی ټکنالوژي کاروي او د معلوماتو د تولید، پروسیس او ذخیره کولو وړتیا لري او هر څه په (0او 1) شکل ذخیره کوي. لکه: اوسني کمپیوټرونه، برقي سامان الات، مبایلونه او نور.



**۳) هایبرېډ کمپیوټر:**

هغه کمپیوټر ته ویل کیږي چې هم د انالوګ او هم د هابریډ خصوصیات ولري. لکه: د زړه د زربان ماشین او نور.



**۲) کمپیوټر د اندازې له مخې پر څلورو ډولونو ویشل شوي دي.**

1: Mainframe Computer    2: Supper Computer    3: Micro Computer    4: Mini Computer

**۱) مین فریم کمپیوټر:**


دا ډېر لوی کمپیوټرونه دي چې په لویو سوداګري او دولتي دفترونو، بانکو، هوایی شرکتونه او نورو ځایونو کې استعمالیږي او همدارنګه په نومورو کمپیوټرونو کې انلاین ډاټا هم ذخیره کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**۲) سوپر کمپیوټر:**

دا تر ټولو خورا پیاوړي کمپیوټر دي چې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۶۰ م کال کې د امریکا د دفاع وزارت لپاره جوړ شو. ددې کمپیوټر استعمال په فضایي سازمانونو لکه ناسا، سپیس اکس، GPS سیستم او د هوا پېژندنې کې دی.



**۳) مایکرو کمپیوټر:**

مایکرو کمپیوټر ته Personal Computer هم وايي. حجم يې کوچنی، په بیه ارزانه او څو ساعته چارج ورلای شي. دا کمپیوټر عموماً په کورونو، دفترونو او ښوونځیو کې استعمالیږي.



* یاد کمپیوټر د لومړي ځل لپاره د (IMB) کمپنۍ لخوا جوړ شو.

**۴) میني کمپیوټر:**

نومړي کمپیوټر له مایکرو کمپیوټر څخه کوچنی او قوي دي او له میني کمپیوټر څخه زیات وخت په ساحه کې کار اخستل کیږي چې ډیر سپک، قوي او لږ حجم لري.



**د مایکرو کمپیوټر ډولونه**

1) Desktop 2) Laptop 4) PDA (Personal Digital Assistant)

**۱) ډیسک ټاپ:**

دا ډول کمپیوټرونه په ظاهري بڼه ډیر لوی دي د میز په سر ایښودل کیږي. مستقیم په برق کار کوي چارج نسي ساتلای او ورځخه په ادارو کې کار اخستل کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**۲) لېټاپ کمپیوټر:**

لېټاپ کمپیوټر چې ډېر کم حجم لري په اساني سره د انتقال وړ دي. په خپل ځان کي بټري لري چې په ساعتونو په ځان کي برق ساتلای شي او موږ ورځخه کار اخستلای شو.



**۳) پي ډي ای کمپیوټر:**

دا ډول کمپیوټرونه ډېر کم حجم لري چې حتی په لاس کي هم نیول کیداي سي اوسني نوي ماډلونه یې ډېر چټک دي چې لوړه حافظه لري او په بیه هم ګران دي لکه اوسني ټلفونان:

## د کمپیوټر هارډویر

**۱) هارډویر**

هارډویر د کمپیوټر هغه برخه ده کوم چې د لیدلو او لمس وړ وي.



Keyboard, Mouse, Monitor, System unit, Cables, RAM and etc.

## د هارډ ویر برخي

1)Input Devices 2)Processing Devices 3) Storage Devices 4) Output Devices

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱) داخلي وسائل ( input Devices )




۱ ) داخغه وسایل دی چی دهغه په واسطه یي کمپیوټر ته معلومات دننه کیږي.

مثال : کیبورډ . موس . سکنر، ټچ پيډ، مایک اوداسی نو ر .

### 1) Keyboard/کیبورډ

کیبورډ یوه (Input) آله ده چی ددی په واسطه کمپیوټر ته لیکل، عدد، سمبول او (Command) وردننه کولای شو.



**د کیبورډ ډولونه**

**۱) لېن لرونکي (USB) کیبورډ:**

هغه کیبورډ دي چي د USB لاین په واسطه د کمپیوټر سره وصل کیږي.



**۲) بی لېنه (Wireless) کیبورډ:**

هغه کیبورډ دي چي لاین نه لري او په بلوتوت د کمپیوټر سره وصل کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


### ۳) لیزر (Laser) کیبورډ.

یوه لېزري رڼا کوي چي د کیبورډ بټني جوړوي پر هغو بټنونو بیا کار کیږي.



*** Keysخه ته وایی**

د کیبورډ بټنانوته Keys وایی.

1) Alphabetic (A-Z)





2) Number keys




3) Function keys




4) Arrow keys /Direct




5) Numbaric keypad



**A: Space bar key:**

پدی سره فاصله پیداکیږي.




**B: Cap Lock Key:**

دا بټن چي کله On وي نو ټول حروف غټ لیکل کیږي او چي کله off وي نو بیا حروف کوچني لیکل کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**C: Tab Key:**




ددي بټن په وهلو سره نيم اينچ اندازه وهل کيږي.

**D: ESC (Escape Key)**





د Escape بټن د Cancel او No کار سرته رسوي.

**E: Backspace Key:**




په دی بټن سره ليکل پاکولای سو او شاته په تللای سو.

**F: Enter Key:**




ياد بټن د yes او ok کار کوي او په واسطه سره يی پراگراف جلا کيږي..

**G: Print Screen Key:**

د دی په واسطه سره چي د Alt بټن ورسره ونيسو د Screen عکس اخستلای سو چي په Paint پروگرام کي ثبت کيږي.




**1) Control Key** **2) Alt Key** **3) Shift Key** **4) windows** **5) Delete Key**

**6) Page Up** **7) Page down** **8) Insert** **9) Home** **10) End** **11) Fnd**

**12) Keyboard's Touchpad:**

ځيني کيبورډونه د Touchpad ساحه هم لري چی خاص د کمپيوټر د هغې په رقم کار کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Mouse (موږک)





**۲) موس یا (Mouse)**

دا هم د کمپیوټر د داخلي آلو څخه دي چي په ضریعه سره کمپیوټر کي مختلف کارونه کولای شو لکه Open, Commond press, Move, Select او نور.

## د موس ډولونه

**) لین لرونکي (USB) موس:**

هغه موس دي چي د USB لاین په واسطه د کمپیوټر سره وصل کیږي.

۲) **بی لینه (Wireless) موس:**

هغه موس دي چي لاین نه لري او په بلوتوت د کمپیوټر سره وصل کیږي.




**د موس پتني**

1) Left Button (Primary Butten)

2) Right Butten ( Secondary Butten)

3) Scroll Wheel (Middle Butten)



(c) ketabton.com: The Digital Library





**۳) د موس اربه ( Scroll Wheel)**

پدی سره کولای سو چي لاندي کارونه تر سره کړو.

| | | | |
|---|---|---|---|
| Scroll Wheel | Zoom | Zoom In | نږدې کول |
| | | Zoom out | لیري کول |
| | Move | Move Up | لوړ تلل |
| | | Move Down | لاندي تلل |

**د (Mouse Click) ډولونه**

**1)Left Click** (Single Click)

د موس چپه بټن چي یو وار ووهل سي دی ته یو چپه کلیک وایی چی پدې سره (Command) وهل کیږي او انتخاب کیږي.




**2) Left Click (Double Click)**

د موس چپه بټن چي دوه واره ووهل سي دی ته ډبل چپه کلیک وایی پدې سره یو شی راخلاسیږي یعني د (Open) کار کوي.




**3) Right Click**

د موس رسته بټن وهلو ته راسته کلیک وایی چي د دی کلیک په وهلو سره مینیوګاني راخلاصیږي.




**۳) سکینر (Scanner)**

سکینر یو ماشین دي چي د کمپیوټر له (Input Devices) څخه بلل کیږي چي د کاغذ پر مخ معلومات کپیوټر ته د عکس په شکل دننه کوي.



یا په بل عبارت هغه ماشین دي چي (Hard Copy) په (Soft Copy) بدلوي.

**نوټ:** سکینر اکثره وخت د پرینټرانو د سر په برخه کي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ۴) ټچ پېډ (Touchpad)

دا هم د کمپیوټر د (Input Devices) څخه دي چي په کمپیوټر کي موجود وي او د موس کار څني اخستل کیږي البته په لاس سره.



**نوټ: ځیني کیبورډونه هم د ( Touchpad ) ساحی لري.**



### ۵) مایکروفون (Microphone )

مایکروفون یا په عامه اصطلاح مایک چي د کمپیوټر د (Input Devices) څخه بلل کیږي چي په واسطه سره کمپیوټر ته اواز دننه کیږي او یا اواز  د ثبت لپاره کمپیوټر ته دننه کوي.



### ٦) کیمره (Camera)

کیمره هم د کمپیوټر د (Input Devices) څخه ده چي په واسطه یی د کمپیوټر څخه دباندي د چاپیریال عکس کمپیوټر ته دننه کوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پروسیس کولو آلې ( Processing Devices )

هغه آلو ته وایی چي (Data) په (Information) اړوي یعني پر ډاټا باندي پروسیس کوي.



### ۱) پروسیسر ( Processor, CPU, Micro Processer)

دا داسي یوه آله ده کومه چي د کمپیوټر ټولي د هارډویر او سافټویر کړونو ته لارښوونه کوي یا یي اداره کوي چي نوموړي آلې ته د کمپیوټر دماغ (Brain) هم وایي.




**نوټ:** (CPU) د (Central Processing Unit) مخفف دي.

**نوټ:** د (CPU) دوی مشهوره شرکتونه چي سي پي یو ګاني جوړ وي عبارت دي له ( Intel) او (AMD) څخه.

### ۲) سیسټم یونیټ (System Unit)


په سیسټم یونیټ کي ټولي هغه آلې یا پرزې شاملي دي چي د کمپیوټر په داخل کي شاملی دي.

لکه: Motherboard, Power Supply, Hard Disk, DVD Room, Cards and etc.



#### الف: اصلي تخته Motherboard( Main Board)

د ا په کمپیوټر کي هغه تخته ده  کوم چي د کمپیوټر ټولي برخي هغه که د هارډویر وي یا د سافټویر وي سره نښلوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**۱) پاور سپلای (Power Supply)**

د دې آلې په واسطه سره د کمپیوټر لپاره د چارج جريان ساتل کيږي.



**۲) سي ډي روم (CD/DVD Room)**

دا په کمپیوټر کي هغه ځای دی په کوم ځای کي چي (CD/DVD) ابنبودل کيږي.




**۳) د سي پي يو ساکټ (CPU Slot)**

دا په مادربورډ کي هغه ځای دی چي پکښي (CPU) نسبيږي.



**۴) د ريم ساکټ (RAM Slot)**

دا په مادر بورډ کي هغه ځای دی چي پکښي (RAM) نسبيږي.




**۵) ګرافيک کارډ (Graphic Card, Video Card, Display Card)**

د دې آلې په واسطه سره ويډيو او عکس سکرين ته چمتو کيږي.


**٦) د اواز کارډ(Sound Card)**



د دې آلې په واسطه سره د کمپیوټر ټول اوازونه کنټروليږي.

**۷) نيټ کارډ (Network Card)**

د دې آلې په واسطه سره کمپیوټر د نورو کمپیوټرونو د شبکی سره نښلول کيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




**۸) ټي وي کارډ ( TV Card)**

د دي آلې په واسطه سره په کمپیوټر کي د ټلویزون او راډیو چینلونه پیداکولای سو.


## ذخیره کوونکي آلې ( Storage Devices )

دا د کمپیوټر هغه آلې دي په کوم کي چي د کمپیوټر مکمل (Data) ثبتیږي یا هم ذخیره کیږي.

**۱) ریم (RAM(Random Access Memory**


یادي حفظی ته د کمپیوټر موقتي حافظه وایی چي پکښي معلومات د لنډ وخت لپاره ساتل کیږي.

نوټ: (RAM) ته بدلیدونکي حافظه (Volatile Storage) هم وایي او نوموړی حافظه هم په (GB) سره راځي.



**۲) دایمي حافظه (ROM(Read Only Memory)**

دی ته د کمپیوټر دایمي حافظه وایی یعني دا هغه معلومات ساتي کوم چي د
کمپني له لوري پکښي ځای پر ځای شوي وي. لکه: (BIOS(Basic Input and Output System





لیکوال: صبغت الله (سلطاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library





### ۳) هارډیسک (Hard Disk)

دا په کمپیوټر کې داسي ذخیره ده چي په کمپیوټر کې دایمي وي او پکښي بدلون راوستلای سو.

## د هارډیسک ډولونه د جوړښت لمخي

**۱) (HDD)** دا ډول هارډیسکونه چټک نه دي پکښي فلزي ډیسکونه موجود وي او اندازه یې تر نورو ډیره وي.

**۲) (SSD)** دا ډول هارډیسکونه خورا چټک او پکښي چیپونه موجود وي د ډاټا د ثبت لپاره اندازه یې نثبت HDD ته ډیره نه وي او په بیه کي هم ګران دي.




## د هارډیسک ډولونه د موقعت لمخي



### ۱) داخلي هارډیسک (Internal Hard Disk)

دا ډول هارډیسک په سیستم یونیټ کي وصل وي یعني په کمپیوټر کي دننه شتون لري.

### ۲) خارجي هارډیسک (External Hard Disk)

دا ډول هارډیسک په کمپیوټر کي وصل نه وي د کمپیوټر سره د USB لاین په واسطه وصل کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library






**۴) فلش يا USB(Universal Serial Bus)**

Flash Driveيا Pen Drive دا هم ډاټا په دايمي توګه سره ساتي او د ددی په واسطه سره معلومات له يوه کمپيوټر څخه بل کمپيوټر ته انتقاليږي.

**۵) ډيسک (Disk)**

هغه کيسټ چي په کمپيوټر کي د حافظې لپاره استعماليږي هغه ته ډيسک وايی.

**د ډيسک ډولونه**

2) DVD(Digital Video Disc) 4,5/9GB

1) CD (Compact Disc) 700MB





**د کمپيوټر د حافظې د اندازه کولو واحدات**

د کمپيوټر د حافي د اندازه کولو واحد عبارت دي له (0-1) Bit څخه چي (8 Bit) يو (Byte) کيږي.

| Memory Units of Computer | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Bit | (0-1) | 7 | PB(Peta Byte) | 1024 TB = 1 PB |
| 2 | Byte | 8 Bit = 1 Byte | 8 | EB(Exa Byte) | 1024 PB = 1 EB |
| 3 | KB(Kilo Byte) | 1024 Byte = 1 KB | 9 | ZB(Zeta Byte) | 1024 EB = 1 ZB |
| 4 | MB(Mega Byte) | 1024 KB = 1 MB | 10 | YB(Yuta Byte) | 1024 ZB = 1 YB |
| 5 | GB(Giga Byte) | 1024 MB = 1 GB | 11 | BB (Bronto Byte) | 1024 YB = 1 BB |
| 6 | TB(Terra Byte) | 1024 GB = 1 TB | 12 | GB(Geop Byte) | 1024 BB = 1 GB |



(c) ketabton.com: The Digital Library



# خارجي آلې ( Output Devices )

خارجي آلې(Output Devices) هغو آلو ته وايي چې پروسيس سوي معلومات کارکوونکي ته ښيي.

يا په بل عبارت هغه آلې چې موږ ته  له کمپيوټر څخه داسې معلومات راکوي چې موږ يې وينو او اورو هغه ته خارجي آلې وايي.




## ۱) مانيټور (Monitor)

مانيتور يا هم د کمپيوټر سکرين د کمپيوټر د (Output Devices) څخه دي چې موږ ته هر هغه څه ښيي موږ يې په کمپيوټر کې کوو او درې ډوله دي لکه: لومړی (CRT) دوهم(LCD) دريم (LED)







## ۲) پرينټر (Printer)

پرينټر هم د کمپيوټر د (Output Devices) څخه دی چې موږ ته ساپټ کاپي په هارډ کاپي بدلوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پرینټر ډولونه



۱) پرینټران د کار له پلوه په دوه ډوله دي ۱) Ink jet ۲) Laser Jet


۲) همدارنګه د چاپ له پلوه هم په دوه ډوله دي ۱) رنګه ۲) ساده




### ۳) پولټر (Plotter)

پولټر هم دکمپیوټر د (Output Devices) څخه دی چې په ضریعه سره یې غټې لوحې یا بینران چاپیږي.





### ۴) پروجکټور (Projector)

پروجکټور د کمپیوټر د (Output Devices) څخه دی چې شعاوي ورځخه راوځي چې د کمپیوټر صفحه پر دیوال یا کومه پرده ښکاره کوي.



### ۱) سپیکر (Speaker)

سپیکر د کمپیوټر د (Output Devices) څخه دی چې د هغه په واسطه اواز راوځي.

### هغه آلې چې هم (input) وي او هم (Output)

۱) مایکروفون (Micro Phone)      ۲) کېمره (Camera)      ۳) ټچ سکرین (Touch Screen)



لیکوال: صبغت اللّه (سلطاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لاینونه او د هغوی ساکټونه (Cables and Ports)




### ۱) وي جي ای لاین او ساکټ(VGA Cable and Port)

دا کیبل پروجیکټر او پلازما د کمپیوټر سره نښلوي.




### ۲) ایچ ډي ایم ای لاین او ساکټ (HDMI Cable and Port)

دا کیبل هم پروجیکټر او پلازما د کمپیوټر سره نښلوي خو دا کیبل بیا بیا اواز هم لیږدولای شي.





### ۳) نیټورک لاین او ساکټ (Network Cable and Port)

د دي کیبلونو په واسطه سره موږ کولای شو چي د څو کمپیوټرونو یو نیټ ورک جوړ کړو او د انټر نیټ د وسلولو لپاره هم کاریږي




### ۴) پاور لاین او ساکټ ( Power Cable and Port)

د دي کیبل په واسطه سره کمپیوټر چارج ته ترلي شو.



### ۵) یو از بي لاین او ساکټ (USB Cable and Port)

اوسني اکثره وسایل د USB کیبلونه په واسطه سره چارجیږي او یا نور کار ځني اخستل کیږي.



### ٦) د ګوشکو لاین او ساکټ ( Headphone Cable and Port)

د دي کیبلونو څخه د ګوشکو او مایکونو لپاره کار اخستل کیږي.

### ۷) ساټا او پاټا کیبلونه ( Sata and Pata Cables)

دا کیبلونه د کارډونه او له مادربورډ سره نښلوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کمپیوټر سافټویر (Software of Computer)

ټول هغه (Programs) او (Applications) چې استعمال کوونکي يې په کمپیوټر کې استعمالوي عبارت دي د کمپیوټر له سافټویر څخه.




### د سافټویر ډولونه

1) System Software 2) Application Software 3) Customized Software

### ۱) سیستم سافټویر (System Software)

پدی سافټویر کې هغه پروګرامونه شامل دي چې د کمپیوټر سیستم په کار راولي لکه: Operating System او Driver Software

### عامل سیستم (Operating System)

دا هغه پروګرام دي چې په لومړي ځل کمپیوټر ته انسټال کیږي او کمپیوټر په عمل راولي.

لکه: Windows, Linux and etc

### ډرایور سافټویر (Auto Driver)

کله چې عامل سیستم کمپیوټر ته انسټال کړو نو د کمپیوټر ځیني برخي کار نه کوي چې په ډرایور سره يې دا مشکل حلیږي.

### ۲) پروګرام سافټویر (Application Software)

دا سافټویرونه د جلا جلا ضرورتونو د پوره کولو لپاره جوړیږي لکه:

1) MS Office 2) Photo Editor 3) Video Editor 4) internet 5) Recorder and etc.

### ۳) یوټلټي سافټویر (Utility Software)

دا ډول سافټویرونه لکه د انټي ویروس، د بیک اپ او داسي نورو موخو لپاره سافټویرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څنګه يو ښه کمپيوټر رانيسو!!

د يو ښه کمپيوټر د رانيولو لپاره بايد دا لاندي لارښووني په نظر کي ونيسو.

- ډيري پيسي


که چيري غواړي يو ښه کمپيوټر رانيسي نو يو څه ډيري  پيسي پر ور کړي څکه د ډيرو پيسو کمپيوټر ښه وي.


- کمپني

د کمپيوټر د رانيولو په وخت کي بايد کمپيوټر د يوي ښه کمپني څخه انتخاب کړو لکه: ډيل (Dell)، لينووو (Lenovo)، ايچ پي (HP)، سوني (Sony)، اپل (Apple)، توشيبا (Toshiba) او سمسنګ (Samsung)

- نسل (Generation)


د کمپيوټر ترټولو مهم د هغه نسل (Generation) دي يعني د کمپيوټر چي څومره نسل لوړ وي هغه ښه کمپيوټر وي څکه لوړ نسل کمپيوټر په ښه ټکنالوژي سمبال وي. ښه نو څنګه کولای سو چي د کمپيوټر نسل وګورو.





- کور ای (Core i)


د کمپيوټر د پروسيس لپاره د کورونو تعداد ډير مهم دي هر څومره چي د کورونو تعداد ډير وي په هغه اندازه د يو کمپيوټر پروسيس چټک وي.





- ريم (RAM)

د کمپيوټر د پروسيس د تيز والي لپاره د ريم ډيروالي هم ډير مهم دي يعني د پروسيسر مطابق د ريم ډيروالي د کمپيوټر لپاره ډير ښه دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


- ګرافيک (Graphic Card)

په کمپيوټر کي يو بل مهم ګرافيک کارډ دي چي هرڅومره ګرافيک کارډ لوړ وي په هغه اندازه يې ګرافيک HD وي

- حافظه (Hard Disk)

د کمپيوټر حافظه هم له مهمو اړخونو څخه ده ځکه هارډيسک هغه ځه دي چي پکښي زموږ ټوله ډاټا شتون لري.

نو بايد هارډيسک د يو کمپيوټر له ۳۲۰ جي بي څخه کم نه وي لوړ چي هر څومره وي.

- بټري (Battery)

د کمپيوټر بټري د لپټاپ کمپيوټرانو لپاره ډيره مهمه ده ځکه هغه کمپيوټر چي ډير چارج وړلای سي هغه ښه وي.

- رنګ او شکل (Color and Shape)

په يو ساده رنګ کي کمپيوټر ډير ښه خوند کوي نه لکه سور، سپين، زرغون، شيرچايي او داسي نور تيز رنګونه.

او همدارنګه د کمپيوټر سکرين بايد ۱۴ يا ۱۵ انچه وي تر دي غټ او کوچني زياتره خلګ نه خوښوي.

**نوټ:** د کمپيوټر د رانيولو څخه د مخه په يو مسلکي کس باندي وګوره تر څو يو ښه کمپيوټر ترلاسه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

1) www.google.com

2) www.youtube.com

3) Shah Mahmood teacher video lectures.

4) Computer Fundamentals / Oxford University

5) د کمپیوټر بشپړه پیژندنه/ کتاب

6) د کمپیوټر اساسات/ کتاب

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**